




Download from:aghalibrary.cm


د پښتو ادبي ټولنې
علم رښا ده
تاسیسي کال 2016
د پښتو ادب خدمتګاره ادارې


صدر صابر دلنواز حیات
مصطفی حیات
یاسین شریگر
اسحاق نگار مروت

پیه pdf شکل جوړولونکی طارق وزیر

Tariq wazir

کلام

چې مطلبه پورې یار وی خوښ مې نۀ دې
همېشه چې په بل بار وی خوښ مې نۀ دې

حق وائېلو په وخت شته ژبه کښې ګونګ شی
دا سړې که زما پلار وی خوښ مې نۀ دې

چې دا جنګ مېدان نه پاسه په آس تښتی
که هر څومره شهسوار وی خوښ مې نه دې

تش په خله باندې مې حنان آو حنېګر بولی
نور ئې هر کار دآ غیار وی خوښ مې نه دې

چې سپرلی کښې ئې غوتی ګلان جوړ نۀ کړی
که دا سرو ګلو مالیار وی خوښ مې نۀ دې

دا رهزن په لېدو خپل حنان ته خېر غواړی
که مې مل په هره لار وی خوښ مې نه دې

چې صآبر پرې خپل پېوند ګنډلې نشم
که سرو زرو نه جوړ تار وی خوښ مې نه دې

06/03/2020

کلام

زما زړۀ په کور بل کړې دې خپل یار وور
اوس تر مرګه به بلیږی په ماخوار وور

زما زړۀ یې په ګوګل دننه وریت کړو
چې پرې بل شولو دستاد سپین رخسار وور

چې ایمان یې دالله ج په وحدنیت وی
بیا هغو ته ګرائځبدلې دې ګلزار وور

نن هغا ګوره دوور لمبو کښې سوزی
چا چې ځان ته وو ګنړلې پیروکار وور

چې مخبر یې شوک زما دچم نه نۀ وی
څنه ما پوګړې به مې کور ته کړای غیار وور

نۀ دځان شوم نۀ د بل شوم عمر تیر شو
ساقی خوښ مې نۀ شو ستاددې خمار وور

د ژوند هره خوشحالی یې بیا په غم وی
سوزولی چې وی څوک دانتظار وود

د دنیا په غم خواشی صابر راضی یم
خو پناه غواړم عقبه کښې دقهار وود

نظم

د نوی کال سحره داسې راشه
په هر یو کور کښې خوشحالی راولا

د بد آمنی طوفان په بل لوری کړی
چغه د آمن مثا لی راولا

دېرو مودو نه خپل پر ادی شوی یو
زمونږه مېنځ کښې خپلولی راولا

تر څو به یو بل نه خفه کړ ځیږو
مونږ پښتانو کښې یو والی راولا

دېر دخزان بادونو اوشپندلو
ځان سره ښه سمسور سپرلی راولا

د بهلتا نه تیارې کړه لرې مو نږ نه
د هر چا غېږو ته لالی راولا

دېر په لټون ور پسې ستړی شولو
دا ګلو باغ ته مو مالی راولا

دصآبر اوښکو او دعا په خاطر
مسلمان هر ځاتې بریالی راولا

کلام

قبصې دا یار وصال زړګیه ګرانې غوندې دی
قسمت کربنې مې هم نن سبا ورانې غوندې دی

بې وخته دې که زوړ کړمه اې غمه زوراوره
د مینې ارادې خو مې له ځوانې غوندې دی

واعبظ مایراوی چې مال آوسربه پکښې بائېلې
په عشق کښې قربانی ماته آسانې غوندې دی

غزل نۀ دې تپه نۀ ده خو دغه نوم به‌ورکړم
په خله مې خپل الفت قبصی روانې غوندې دی

غلتی وه چې مااوکړه زړۀ په ستړګو ته لېدوته
والله چې اوس هغه هم پرې ښېمانې غوندې دی

آشنا دځان آشنا کړې دآ حمقو په دنیا کښې
زړګیه وسوسې دې دا نادانې غوندې دی

صآبره تو به ګارشه نور عقبه ته فکر مند شه
هغه لارې کوڅې درته انجانې غوندې دی

کلام

عجبه غوندي قانون دي عاشېقي کښي
راحت نشته ټول کړون دي عاشېقي کښي

چاته هره شپه دیار زلفي بالښت وی
دچاهسي زړه چاودون دي عاشېقي کښي

د وصال خوارۍ يې عسل نه خوارۍ وی
خو دزهرو تریخ ببلتون دي عاشېقي کښي

چې آشنا ته دي احساس د مینې راشی
بیا جنتِ په شان ژوندون دي عاشېقي کښي

نه په مال نه په کمال آو نه په زور شی
بس د دوو زړونو سمون دي عاشېقي کښي

په یو بل باندي راقیب غماز بد لری
خوار عاشېق ته يې ترون دي عاشېقي کښي

چې په یار سر ورکول شی پته لری
په خلې هر سړي مجنون دي عاشېقي کښي

د صابر رنګ يې سکرو په شاني تور کړو
سرو اوړونو ته ګډون دي عاشېقي کښي

کلام

خۀ شمتخوریم چې بېناه یم بیا جهان نۀ وینم
خړه متاع وینم عقبه کښې ګلېستان نۀ وینم

واعېظه تۀ ما مئېکدې په تلو مختوری ګنړې
دادې منم خو په کده کښې صادېقان نۀ وینم

د بل عېبونو پورې شپه ورځ خندا ګانې کوم
آحمق خوزۀ یم چې عېبونه دخپل ځان نه وینم

دلته د ختې جوړ ښکله باندې ایمان بائېلمه
شمکور خویم چې حقیقی حورې غېلمان نۀ وینم

په خله خو هر سړې مجنون دې روبرو د لیله
په لیله سر مال ورکولو عاشېقان نۀ وینم

د علامې د بد بختی نۀ دی بیا نوره څۀ دی
خواکښې ئې اوسمه کالونو کښې جانان نۀ وینم

صآبره خاورې خکلواه خېروالبشر دا قدم
نورو خاپو کښې پار کېدو والا ایمان نۀ وینم

کلام

بې تپوسه چې هر څوك په ولی بولم
بیاد خپل عقل هر څۀ نه خالی بولم

بنه بېناه وی خو انصاف ته نابېناه شی
د منصېف بیا زۀ بد بخت زلی بولم

زۀ خپل زړۀ ته تسلی په غماز ورکړم
ماکړیوان شلېدو کښې لاس دلالی بولم

په خیالو نو کښې آشنا دځان آشنا کړم
خوزۀ خپل خیالونه هسې خیالی بولم

بې خزانه ئې ګلونو بوټی وچ وی
ملامته بیا دهغ باغ مالې بولم

ژوندنۀ هر یو منزل ته مې راهګیر دی
یار غمونه له هر چا ننګیالی بولم

چې پیالو ته غراضی ورته صابر شوم
اوس له هر چا ایماندارہ ساقی بولم

کلام

زوند خوارۀ یې رانه هیروومینه نۀ وه څۀ بلا وه
زۀ آو یار پکښې راکښر وو مینه نۀ وه څۀ بلاوه

د دنیا خلقو نظر کښې که وم زۀ که مې آشنا وو
دواړه مړو کښې یې شمېر وومینه نه څۀ بلاوه

خوشحالی نه دومره لرې لکه زمکه تر آسمانه
بس غمونه پکښې دېر وو مینه نۀ وه څۀ بلاوه

خپل لاسونه مې سوری کړو دګلونو تمنا کښې
تول از غمې ترېنه چاپېرو و مینه نۀ وه څۀ بلا وه

مخامخ مونږ خپله مینه ورښکاره نکړه یو بل ته
زړۀ کښې یو بل ته ورتېر وو مینه نۀ وه څۀ بلاوه

څۀ عجبه شانې حسن خدایۍ ور کړې وو آشنا ته
سرۀ ګلان تري متاثر وو مینه نۀ وه څۀ بلاوه

یې وصاله شوې سپین ګیری ای صآبره دلنواله
تاته دغه کښې به خبرو و مینه نۀ وه څۀ بلاوه

کلام

د اوښکې به مې یو ورځې خپل ځان پېداکوی
په باغ کښې به مې زهر آو سرهٔ ګلان پېداکوی

چې دِك ئې د حیا آو دعزت نه غږېدل وی
مقام بیا هر یو ځائې کښې د چشمان پېدا کوی

آشنا د بار انهٔ پشان مې زړهٔ په زمکه راشه
په للمو کښې ګلونه خو باران پېدا کوی

نور هر څهٔ په نصیب دی خو یو ه قبصه جداده
دوزخ جنت سړې په خپل ایمان پېدا کوی

بې قدره که ښکار یږی دغلیم آحمق نظر کښې
مومبن په خپلو اوښکو جنتان پېداکوی

څهٔ اوشولو که ماپکښې دخپل ځان بولی ورکه
صادېقه مینه هر ځائې مشتریان پېداکوی

زړګیه قلار کښه دراقیب نه ګپلی مکړه
خامی ستا په الفت کښې خپل جانان پېداکوی

صآبره هغې مور آو هغې خاورې نه قربان شم
مخلبصه ایماندره چې ځوانان پېداکوی

کلام

بې آجله چا آجل موندلې نۀ دې
له مامانړې چاسنبل موندلې نۀ دې

چې یقین یې په اسبابو باندې جوړ شی
بیا هغو خلقو خدائ مل موندلې نۀ دې

خپلوالی پسې مې پښو تنړاقې وُ کړې
تول پرادی ماځوک خپل موندلې نۀ دې

صداقت غواړی زړګیه ځان خبر کړه
یار وصال چا په چل ول موندلې نۀ دې

چې رهبر یې معمه رهزن ته یوسی
دې کاروان کله خپل غل موندلې نۀ دې

په مورچه باندې ختل دننګیالو وی
مابې ننګه په مورچل موندلې نۀ دې

په منزل پسې مزل کیږی صآبره
بې مزله چامنزل موندلې نۀ دې

کلام

باغوان چې خپله د ګلونو باغ رېبدل شروع کړی
پو هېږم نه ګلان بیا چرته اوسېدل شروع کړی

تیار و کښې تېر عمر انجام نه به خبر شې هله
په تنا بونو دې چې ګور ته کوزېدل شروع کړی

بیابه تورین پشانې ستا عېبونه هر څوک ګوری
کله چې ستا نظر چا عېب ته غړېدل شروع کړی

زما مالیار نه سیند په غاړه ګلوباغ او چیړی
څۀ به مې للمو زمکې بوتی تو کېدل شروع کړی

دبې وسی اوښکې چې واخلمه منصف ته ورشم
هغا مې اوښکو پورې خپله خندېدل شروع کړی

اومید لرم چې لا زاواله به عقبه کښې خاندی
په ګنا هونو چې څوک دلته ژړېدل شروع کړی

خلك دمښمو پېالې اوڅکی حښګیدلی ګرځی
صآبر دیار په تش لېدلو ځنګېدل شروع کړی

کلام

وار خطامې شو د غروپه شان همت زور
رامعلوم چې شو رېښتونې محبت زور

د بلقیس لښکرو هم ورته سر ټیټ کړو
ورښکاره چې کړو هد هد د حقیقت زور

زهٔ د داسې چا غلام یمه ناصبحه
چې ئې وړې په اویو دفر عو نبت زور

د زوال ډکه متاع به ئې څهٔ خپل کړی
خدائ چې چاته وی ورکړې صداقت زور

دساقی کاسو خو اړه تر اخهٔ مې هبرشو
چې ماولېدو دیار شوندو خو اولت زور

تهٔ خبرې کو ه آشنا زهٔ به دعا کړم
درمعلوم به شی زما دشرافت زور

د هغهٔ عزت څو ورځو مېلمه بویا
چې ګټلې چاعزت وی په دولت زور

په لښکرو باندې نېغ ورځه صابره
چې دې مل شی دالله دوحدانیت زور

غزل

زور دې په دې کلی کښې
اور دې په دې کلی کښې

خدایه څوك غریب مکړې
پېغور دې په دې کلی کښې

حق وائیل دَدوو مینئځ کښې
پور دې په دې کلی کښې

نام مې دستا مینه کښې
خور دې په دې کلی کښې

نن څوك مسافر درومی
شور دې په دې کلی کښې

نه حشم دې کعبې نه زه
مور دې په دې کلی کښې

ستا درشیوال ستا یاسین
کور دې په دې کلی کښې

غزل

نن مې په زړه کښې فیصله وکړله
ده دنیا هر څه مې توبه وکړله

بیا به په ژوند چرته ګناه ونکړم
ده مې خپل رب سره وعده وکړله

وې چې جنت په عبادت موندې شی
نن په میمبر مولا قیصه وکړله

که په خساب شې تلل جنت ته ګران دې
ده خپل ګناه مې آندزه وکړله

کلام دې تاند اوسه یاسین درشیوال
ستا شاعرې ډیره مزه وکړله

غزل

زه یم پښتون متمو کښې زور لرمه
خپله حُجره لرم خپل کور لرمه

بل ته لاس نه نیسم پښتو وطن دې
کلې اوکور لرم پېښور لرمه

راشه اسمان ستوری پۀ خپله شمار کړه
دومره زخمونه په زړه نور لرمه

ورځ کښې زه څو څو ځله حج کومه
شکر دې کور کښې خپله مور لرمه

وړې دې زړه دې درشیوال یاسین نه
ځان کړه خبر زه په تا پور لرمه

غزل

ګرځئم مزل کوم منزل لټوم
ژوند تیر یدوته چرته خل لټوم

مانه پې زړه واړه په خوه ملګرو
تپوس کوم ده خپل زړه غل لټوم

عمر مې تیر کړلو په طمع ده یار
چې نه را ځی نو یار به بل لټوم

پیزوان پې شته لچې پې ډکې بنګړو
یار ته مې بنکلې شان چار ګل لټوم

لرې نقاب کړه درشیو ال یاسین ته
مخ کښې دې ټکې ده غزل لټوم

غزل

مونږ پاڅو هر سحر کوؤو دا غر سره خبرې
څوك ناست وی مخامخ کوې دلبر سره خبرې

وصال مې نصیب نه شو خو زه دې باندې خو شحال یم
په خوب کښې کوؤو هره شپه اکثر سره خبرې

خفا نه وه هغه هسې دروغ وُو چا وائلی
نن اومې کړې نظر ده یار نظر سره خبرې

ویشم به نن خواږه په ماشو مانو ماز دیګر کښې
ده ډیر وخت بعد مې اوشوې مراور سره خبرې

پیزوان به درته جوړ کړم سرو بنګړی به درته راوړم
پرون مې ګرانې شوې دې زرګر سره خبرې

خیر خواه دې دلته څوك نیشته یاسینه درشیوالله
مخفل کښې کوه ډیرې په هنر سره خبرې

غزل

زړه کښې دي پټ ده مينې راز ښکاري
څکه خبرو کښې دي ناز ښکاري

اوخورو وخت هغه درنه سپيځلي
اوس نه محمود او نه آياز ښکاري

غلي خاکيم دي دانصاف په مري
کنې ده غل په بده پياز ښکاري

دغه دستور دي شاه کتاب کښې ورسته
دلته باز چتي چتي باز ښکاري

هيڅ نه پوهيږمه ياسين درشيوال
هر حقيقت راته مجاز ښکاري

ليکوال ياسين درشيوال

غزل

نه په ګناه نه په قصور پو هېږم
وژنې می یار په دې ضرور پو هېږم

ستا په راتلو مې زړه روغېږی اشنا
زه په دې خپل زړګی رنځور پو هېږم

نشه نشه سترګې دې مینه غواړی
زه ستا دسترګو په انځور پو هېږم

بیا به دهوکه نه شم په ژوند کښې چرته
الله راکړې دې شعور پو هېږم

اوس نه راګوری درشیوال یاسینه
دستا ستم په دې غرور پو هېږم

غزل

باور مې نه کيږي ده بل په ژبه
وايم اشنا ته ده غزل په ژبه

چې هر څه کيږي بيا به وخت ته ګورو
اوس مې بس کړی ده توکل په ژبه

اومید لرمه چې آشنا به پوې شې
ګلان پوهيږي ده بلبل په ژبه

راقيبه بيا دې يار ته څه وايلې
الله دې ګونګ کړه مکمل په ژبه

دومره شعور لرم ياسين درشيوال
پو هيږم زه ده ساز او غل په ژبه

غزل

ردکیږي نه دعاء سجدې قبلېږي
د خداي پۀ در هروخت توبې قبلېږي

ملا صاحب نه بۀ پوختنه کوم
دزړۀ دعاء پۀ کومې شپې قبلېږي

زۀ جنان جنان زما رقیبه
نه دې اوس سرو زرو تحفې قبلېږي

سنګار سنګار لکه دناوي ګرځي
ملا صاحب ددي روژې قبلېږي

بغیر د غُزره ته روژي نلري
پۀ کوم کتاب ستا کَفارې قبلېږي

شیخه که نه ځې اراده اولیکه
دخدای پۀ لار کښې ارادې قبلېږي

نظر دې نه لګی ګاوند پۀ غریب
داسې حجونه نه عمرې قبلېږي

چرته بۀ راشی درشیوال یاسینه
بې وخته مه کوه خیرې قبلېږي

لیکوال یاسین درشیوال

غزل

عادت کوم خو عبادت نه کوم
طمع به ولې ده جنت نه کوم

ده ګنا هو نو نه نفرت کومه
ده ګنګار سړی نفرت نه کوم

والله هو خیر و رازقین بې شکه
بچی می مری چی زه مخنت نه کوم

زه مسلمان ده مسلمان په کور کښې
ولی به هغه ذات صفت نه کوم

له خپل منزل ته راسید له نه یم
فرض می آده کړلو سنت نه کوم

غریب به وم خو ضمیر نه خرڅوم
ده خان بچی باندی شفقت نه کوم

عادت می جوړ دی او ضمیر می مړدی
بنه روغ رامټ یم خو همت نه کوم

ده چه به خواخ نه شی یاسین درشیوال
ده خپل شیعرونو واضاحت نه کوم

لیکوال یاسین درشیوال ختک

غزل نمبر1:

ما چې په چا باندې اعتبار کړې دې
هغه په ما باندې ګزار کړې دې

چې پښتووائی پښتو نۀ کوی
هغه پښتون نه مې انکار کړې دې

زه به ناکامه چرته ژوند کښې نه شم
هر وخت خدمت مې دمور پلار کړې دې

دَ پښتو ژبې ته چې زیان پرې رسی
نه مې په ژوند کښې داسې کار کړې دې

څنګه یې پرېږدمه یاسین درشیوال
مایې تول عمر انتظار کړې دې

غزل

فاني دنيا په ژوند يو ساعت اعتبار ما کوه
نن توبه او بسه سبا ته انتظار ما کوه

ده پلار نيکه شمله دې هر وختې اوچته ساته
چې پښتون قوم ته زيان پرې رسې هغه کار ما کوه

زاوال به اوخرې غرور مه کوه په بنکلې حنوانې
پښتو وطن دې سمه حشه نخرې په لار ماکوه

چې وس دې رسې محبت لاس هې په سر راکګه
ازار به وکړې په يتيم باندې ګزار ماکوه

سپرلې سپرلې شه محبت ګلونه اوغواړوه
ده خدې ده پاره ده نفرت په لار رفتار ماکوه

څوك به پيغور درکړې ده خپلې پښتو خيال وساته
مونږ پښتانه يو عاداتو نه دلته بنار ماکوه

پريږده چې ولګې الزام په ما ياسين درشيوال
راکړه جامونه نن څکم ساقې انکار ماکوه

غزل

هسې لګوی په بل الزام خو ځان ته نه ګوری
ګرځې به سر توري سرې عام خوځان ته نهٔ ګوری

چا هم دَ مشرانو نوم اوچت نه کړو حیران یمه
خاورې اړوی دَ دوئ په نام خو حیان ته نه ګوری

څومره بې پښتو شوه پُښتنه پېغله ته اوګوره
هر سحر ولاړه وی په بام خو حیان ته نه ګوری

وینی چم ګاونډ کښې چې دَلوبړو بچی مړه شولو
بیا هم تړی هر کالې احرام خو حیان ته نه ګوری

یاسینه دردشیوالله داسې څه دې ستا غزل کښې
کوې خلق تنقید ستا په کلام خو حیان ته نه ګوری

غزل

ده ستا حئواني ده خوشحالو ډکه ده
زما حئواني بلا غمو ډکه ده

زما جامو کښې چنای په حنای پوند دی
ستا لوپټه ده سرو ګلو ډکه ده

زما په اوخکو لوند ګریوان نه ګوري
ستا غونډه زنه ده خالو ډکه ده

زما خو خوښ یې بس یو ته جانانه
ګنې دنیا بښکلو مخو ډکه ده

زه په ظاهره در ته روغ خکاریګم
زما سینه ده پر هرو ډکه ده

ما بولې ګرم هغې ته نه وائې څوک
چې هغه څومره د نخرو ډکه ده

ته ده نظره مه یریګه راشه
زمونګ کوڅه ده سپیلنو ډکه ده

حئکه می خوښه ده یاسین درشیوال
ستا شاعری ده رنګینو ډکه ده

غزل

وائیم ربښتیا که څوك مې وژنی حق خبره کوم
څوك به خوشحال وی څوك خفه بې شك خبره کوم

وایم هغه څۀ چې په کوم څه مې خپل رب خوشحال وی
دامې ایمان دې نه دجنګ توپك خبره کوم

دهر چاز ړۀ خبره پته په خپل زړۀ کښې ساتم
نه په محفل کښې د چاکور بیتك خبره کوم

دامې پهچان دې دامې حیاان دې چې اوسیږو پکښې
حیکه غزلو کښې دخپل کرك خبره کوم

که مې څوك دوست که مې دوښمن ګنړی پرواه نه کوم
وایم صفا صفا یاسین ختك خبره کوم

غـزل

له مې دحنان سره کړه ځان یا راته یار ما وایه
قربان دې شم هسې په خلۀ راته دلدار ما وایه

په خپل وطن باندې چې سر اومال قربان نۀ کړمه
جانانه بیار اته پښتون او وفادار ما وایه

په کلي بنار کښې چرته یو دوه به دکار سړي وي
ساده لالیه هر سړي ته خو هوښیار ماوایه

مینه مې پته په زړګي کښې ساته تاته وایم
دزړګي حال خپلو همزولو ته په جار ماوایه

ستادې قسم وي چې پښتون اولس ته زیان پرې راسی
اې دیوانه رئیسه بیاداسې اشعارماوایه

غـزل

خیالو نو کښې مې خدایه همېشه ګرځي راګرځي
په سترګو کښې یو عکس مې عجیبه ګرځي راګرځي

په خوب کښې ښکلو مه هره شپه حجر اسود زه
زړګې زما تواف کړي په کعبه ګرځي راګرځي

جانان ته مې زیان وه نه راسوي خاونده خبر کړې
زه وینم چې اغیار یې په کوڅه ګرځي راګرځي

ماخوب ته نه پر پرېږدی دستا یادونه زور اور دي
په کور کښې دا زړګي مې هره شپه ګرځي راګرځي

که ډېر یم درنه لرې دخدای بیا شکر ګوزاریم
چې خیال مې شپه او ورځ ستا په روضه ګرځي راګرځي

ملګرو په ایمان زه رئیس حنکه دیوانه شوم
مازغو کښې مې خبرې دعقبه ګرځي راګرځي

غـزل

راتلو ته دې جانانه له مودو په انتظار يم
څه اوکړمه په جال دمحبت دې ګرفتار يم

بادونو دخزان کړم اوچه پانې بس غور ځښېږم
خو بيا هم له زه هغسې په طمع دبهار يم

له يار بغېر علاج مې بل طبيب کولې نشی
د زړۀ په سر خوارلې يې دتورو زلفو مار يم

دهر وخت سر بابر اووچې شونډې چې ګرځښېرم
اغياره ستمګره دخو ستا دظلم ښکار يم

رئيس ديوانه ګڼر يم په ژوندون به تري خلاص نشم
زندان کښې يم دعشق په عدالت کښې سزاوار يم

غـزل

ګل یم خزان دهوا ګانو سره مخامخ یم
خدایه دوخت دظالېمانو سره مخامخ یم

په یو نظر کتلو زړه مې له ګوګل اوباسی
داسې بانو داسې چشمانو سره مخامخ یم

خدایه ایمان ته مې خیر وکړې چې خطانشمه
نن دساقي اومیخو ار انو سره مخامخ یم

له ډیر هیبته په زیر زۀ ورته کتلې نشم
دیار دحسن رنا ګانو سره مخامخ یم

زه دیوانه رئیس راګیر په امتحان کښې یمه
دادیبانو لیکوالانو سره مخامخ یم

غـزل

دا چې په تا ډېر مهربان دې دراقیب دې زار شم
په ته هم ډېر بې حده ګران دې دراقیب دې زار شم

هر وخت په شو نلوې مسکه وې خوش مزاج سړې دې
دا په ایمان مخلص انسان دې دراقیب دې زار شم

زهٔ ورته حیرانه دعزت په نظر ګورم مدام
لېوانې ستاد کور دربان دې دراقیب دې زار شم

دستا ډېر خیال ساتې خفګان لره دې نه ورکوی
سم غز تمند او قدردان دې دراقیب دې زار شم

ورته رئیس دیوانه حیرانه جې قربان وایمه
اومنه خوږ دستا په شان دې دراقیب دې زار شم

غـزل

دا سړی څوك دې چې دستاسو په كوڅه كښې ګرځي
څيرې ګريوان اوسر بابر په سره غر مه كښې ګرځي

شونډې يې وچې رنګ يې تور او سرې خمارې سترګې
سم زنګېدلې په لار ځئ اوپه ناشه كښې ګرځي

شك مې پرې كيږي چې د عشق مرض په زړۀ نيولې
دا چې خړ پړ د ملنګانو په جامه كښې ګرځي

زه خو سو چو نو په دې وجه ورته وړې يمه
چې سترې كيږي نه په ټوله محله كښې ګرځي

اومنه هره ورځ يې وينم ديوانه رئيسه
كله جومات كښې ناست وي كله مئيخانه كښې ګرځي

غزل

دا خو په ایمان لهوانی شوې یم
عشق کښې داجانان لهوانی شوې یم

نوم یې په جار اخلم چې په لاره حئم
سم یې په ارمان لهوانی شوې یم

نه مې لګی زړۀ په محلو نو کښې
زه دا بیابان لهوانی شوې یم

نه یم شراب خور ساقیه پرې مېږ ده
نه دستا په شان لهونی شوې یم

ډیر یم کړېدلې دیوانه رئیس
چاویل چې اسان لهوانی شوې یم

غـزل

پرېواتم دزړۀ له زوره پرېو اتم
اې ملګرو زه له زوره پرېواتم

اوس مې لاس نیولې په لاربل بیا یې
پو ها شومه بنه له زوره پرېواتم

نۀ مې لاس اوبنسپېنه مې نظر کار کړی
لاړم دهر څه له زوره پرېواتم

ماویل چې مرګې به مې پرې باسي خو
زه په ژوندانه له زوره پرېواتم

ډېر دژمی شپو کښې په بد حال یمه
کیږی مې ساړه له زوره پرېواتم

زوړ شوم دیوانه رئیس سپین ږیرې شوم
ستاد بېلتانۀ له زوره پرېواتم

غـزل

په سترګو کښې يې بيا اوښکې ډنې ولاړې دی
داشوندو په سرويې څو ګيلې ولاړې دی

اغياره دخو ټول ستادظلمونو دستان ښايي
سر توري چې دپېغلی پښتانې ولاړې دي

په دې لاره ورتللې نشم يره زما کيږی
په دې لاره کښې ډيرې حادښې ولاړې دی

په وړاندې حشم خو څه وکړمه لاړې راته بند دي
پر مخ مې دهجران توري تياري ولاړې دی

له ډېرې بېواسۍ نه کوم غګ غلی ولاړيم
په سر مې دمرګي تېرې نېزې ولاړې دي

داځنکه په سرو ستر ګو ديوانه رئيس ژاړېرم
په قبر مې ديار سپېنې جنډې ولاړې دي

غزل

نور کوی نشم په تا زۀ اعتبار بس
چی روان شو لې په لاړې دآغیار بس

ستمګره راشه بس کړه را پخلا شۀ
هیڅ طاقت نه لرم نور دانتظار بس

په رنړا ورځ ء د بل حق وئ لګیا دی
زړه می حئکه شو راډك له دی بازار بس

زه پښتون یم په پښتو به سر قربان کړم
بی پښتو سړی ته ویلی نشم یار بس

چی غندنه کړی حئماد خوږ وطن څوك
نګار غواړم داسې خلق په جهان خوار بس

غزل

مینه هم شوه په دولت عجیبه کار دے
له مینے نۀ جوړ شوے اوس روزګار دے

راته ګل په شان وطن مے اغیار وران کړو
زکه لاس کے مے اخیستے نن تلوار دے

چې په کمه ورزمے ستا مخ ته کتلی
دهغے ورځې نه زړه زما بیمار دے

یو وصال راته د خدائے دپاره راوړه
اے دلبره زړه مے ډیر زیات بے قرار دے

پشتانه چه خدائے په سۀ ګنا نیولی
په هر په هر یو کلی ئے بل نار دے

غم دے خه دے یار به راشی اے نګاره
په خزان پسے راغلے تل بهار دے

غزل

دے زمانه کے څو مره چه خوبان اوسی
زلیدلے لکه ستورے جانان اسی

تعجب دے سنګ به روغ شمه یارانو
رانه لرے چه دخوګ زړه درمان اوسی

تورے شپے به سنګ رنړا شی راته وایه
چه د زلفو وریز کے پټ دے لبان اوسی

بس! چه ته رانه فنا شوے دامے حال ده
تل لیمو کے مے دا وښکو کاروان اوسی

دادے زه په کلی نه یم اوته چیرته؟
تر ډیروخت به مود مینے داستان اوسی

نګار مروته په زړه صبر تیګه کیګده
خدائے خبر په کم دِیار به چه ګران اوسی

غزل

هغه مالی! ګل سره خار نه منم
جانان منمه خو اغیار نه منم

چه دوه کسانو مینز کے شر جوړ وی
که وی هوشیار داسے هوشیار نه منم

دیار شوندو نشه مے ے ترے سواده
ساقی دستاد جام خمار نه منم

نوره چه سه وائے هر سه دے منم
خو یو له مینے نه انکار نه منم

چه د وطن صفت په شعر کے نه کری
داسے شاعر داسے اشعار نه منم

نګار مروت پرے خفه کیګمه دیر
په خپله خاوره بل اختیار نه منم

غزل

په سپینِ جبین باندے دے ایخی چې خالونه دی
پو هیګم بیادے چا غریب ته جوړ چلونه دی

نه به شی روغ که تر لندنه پورے وه ګرزی
چا چه په مینه کے خوارلی ګزار ونه دی

په داسے زائے کے زه ګزران ملګرو سنګه وه کړم
دمحبت په زمے په زړو کے نفرتو نه دی

ځما رنګ چه د زعفران په شانے زیر لیده شی
لالیه زکه! په مابنددے دیدنو نه دی

دومره پوهے شوم چه به مرم پاتے به نشمه زه
آشنا خبر شوم چه تابل ته ورلاسونه دی

که مے هر سه شی پر مے قربان خفه به نه یم نګار
دخپل وطن خاورے پ مونګ باندے حقونه دی

کلام

ما کله ستا مینې انکار کړې دې
دا هر چا مخکې مې اقرار کړې دې

سمه خبره وه خو ورانه ئې کړه
داسې غلط کار مې ریبار کړې دې

دا کلي خلک مانه ولې سوزی
ماخو مزل په سمه لار کړې دې

په محبت کښې چې دوهکه انکړې
ما خو په ته باندې اعتبار کړې دې

عجیم حیدر محبتونه شپېندم
په هر قدم مې دا اظهار کړې دې

کلام

دا چا له غيږې چې جانان لاړ شي
د سترګو نم ئې په ګريوان لاړشي

په مادي دهر ې سختې تهرې کړلې
خپر دې ستا به هم دوران لاړشي

داسې ناکامه محبت کښې شومه
لکه چې هر څه دانسان لاړ شي

بيا به زرغون شي دګلونو بوټې
خو چې بادونه دخزان لاړشي

عجيم حيدر ه ستا دهدن به اوشي
انتظار اوکړه چې باران لاړ شي

کلام

سترګې خُماري دې غزابونه دي
مکړه په خندا دې اُوړي زړونه دي

مړه دي لهوني هم په مړو سترګو کړل
په هر چا دې غورزولی تند ارونه دي

په شمعه پتنګان لوګي لوګي شولو
په خائست دې سوزولی علامونه دي

جهان درته ډالي دَمحبت راوړي
ورکړي دې دَ مینې آداتونه دي

حیران عجیم حیدر یم دې نازونوته
اُوړي دَ مئیینو دې خو بونه دي

کلام

خپل حنان لوګې کوم دسپېلانې پشان جانان ته
راځمې دې هر کلې وائېم زماد زړګی خان ته

له ډېرو مودو پس رادرومې لرې مسافر
په هره لار ګلونه مې شېندلي قدردان ته

ستا عشق راباندې داسې کانې اوکړلې دلبره
د اوښکو بارانونه راوریږی مې ګرېوان ته

یار حسن عجېبه دې زه خو ګرم نه یم ملګرو
د حنکه خو مې غاړه ورته اېښې هر تاوان ته

تر څو چې مصطفی ختك راغلې نه وی خلقه
په پوزه بائې نکړمه د وائېمه پېزوان ته

غزل

بس ستا الفت نه مې توبه ویستلې
نورده تعمت نه مې توبه ویستلې

ما به ده ستا بنکله ستا ئنه کړې
نور ستا صفت نه مې توبه ویستلې

چې همشه به یې ستا چم ته بو تلم
اوس ده عادت نه مې توبه ویستلې

مادرته ډیرې سوال زاری کړې دی
نور ستا محنت نه مې توبه ویستلې

په کومو سترګو مصطفې بیاراغلې
ته وې ته مالت نه مې توبه ویستلې

کلام

هسې کوی خلق بدګمان په مو نږه
بنګلی دی چرته مهربان په مونږه

حسن خوارږه خوری غمازانو باندې
نه پیرزو کیږی دجانان په مونږه

خدای به سپرلې زمونږ په چم راولی
داسې به تل نه وی خزان په مونږه

ته چې مسکې شولې د شونډو پسر
یو دې کړه زمکه آوسمان په مونږه

مصطفی لوئې شو ماشومان دکلی
ګنډی ریخې ریخې ګریوان په مونږه

لوبه

رنګ به دې تور کړی په دویی سخته ګرمی ده
راحئه جانانه دلته په کلی سړ دی ده

زما اوستا یاری وختونه
چی شی رایاد کوم سو چونه
اوښکی ګریوان ته څاڅوم دا بیوسی ده

ته مسافر زه یم په کلی
ستر ګو مې ډېرې اوښکې تلی
برداشت کوالې نشم ګرانه جدائی ده

یاره زما نه هرپرې
هروختې ماته رایادپرې
قسم دې یاره زما ته سره یاری ده

یو حئل زمونر کلی ته راشه
ما مصطفی ته راپخله شه
ده سته په نام ګرانه لیکی می حنوانی ده

غزل

څنګه شوې جانانه شوګيرې کوې که نه کوې
وايه کنه مه پسې هيرې کوې که نه کوې

هغه چې حئه به يې سره لمبه کړمه بې اوره ياره
اوس هم بخملو سرى جامې کوې که نه کوې

کيدو به چى حئمونګ پکښې جانانه ملاقات
ته به چې د هغه چم پيرې کوې که نه کوې

حئما د هر غزل به دى جانانه چې تشريح کړه
حئما د غزلونو اوس معنې کوې که نه کوې

مخکې به دى ياره په قدم قدم نخره وه
اوس چې حئى په لاره نخرې کوې که نه کوې

راوان به وى جانانه په سو چونو وسوسو کښې تل
اوس د چا په ياد کښې انديښنې کوې که نه کوې

تيرى په سوونو کې يو ادې پوره نکړه
وعدى جاسم ختمك سره بيا يو دوې کوې که نه کوې

غزل

دچې هر وخت هر محفل کې د دلبر کوم خبرې
یاران می وایې چې په خوب کښې حنۀ اکثر کوم خبرې

بس چې راشم تاته مخامخ شمه ګونګې شم
کنی لګیاوم څه ډیرې په هونر کوم خبرې

خلوص وفا نه ډک یم محبت په خلقو ویشم
دروغ چا درته ویلی چې دشر کوم خبرې

یو مسافرې د بل غمونه می دیار
په ماته خوله به څنګه دا ختر کوم خبرې

تا مینې ته وګې تګې له مودو یمه جانانه
جاسم ختمک لکه په شان د نهر کوم خبرې

غزل

په پر دیسی کښې ژوند کول څۀ اسان کار خو نۀ دې
دجدائۍ په دارختل څۀ اسان کار خو نۀ دې

په نیمه شپه غلبیل غلبیل د کور راوتې یمه
په نیمه شپه کو پریښو دل څه اسان کار خو نه دې

د چا مجبور په لاس نیو لو اف خانده او نه کړې
ملګرو چاته لاس نیول څه اسان کار خو نه دې

تنهاکې پښې جانانه څو ځل ستا دیدن تخ راغلم
په دو تنهاکو پښو مزل څۀ اسان کار خو نۀ دې

مونږ مسافر ده خپل غزت په خاطر څه نه کوو
پرادیۍ څپیړې په مخ خوړل څه اسان کار خو نه دې

اغیاره تا تا توقی ښکاري پښتانو سره جنګ
دی پښتا نو دسې وژل څه اسان کار خو نه دې

توفیق خټك پی غرور نه کوم خودومره وایم
جانانه تا باندی لیکل څه اسان کار خو نه دې

غزل

زړګیه زه چی زو ده یار کلی ته
د هغه ګران هغه ګلزار کلی ته

چی ګیر چاپیر تری رنګینی خواږې شې
وړمه لګ تو خم ده چنار کلی ته

جانان د ښار مستو نشو کښې ډوب دی
کله رادرومی زمونګ خوار کلی ته

که سر پری بائیلم هیڅ پرواه نه لرم
خو پری به نګدمه اغیار کلی ته

کله به حئم د خپلې مور غیږکی ته
توفیق یم ډیر په انتظار کلی ته

کلام

احمق نۀ یم ښۀ اوښیار یمه جانانه
بد دې ځکه یم چې خوار یمه جانانه .

غزلونه با می بیا بهر ته ژوندی کړي
که ژوندی پا مړو شمار یمه جانانه

ده چې سړه سپیلانې لپوانی کړځم
ستا د لاسه خوارروزار یمه جانانه

ده چې نیمه لار کښې خپلو پرادو پرښوم
سبب د دې غوربت ښکار یمه جانانه

وخت بدلیږي وخت د چا انتظار نۀ کړي
زۀ یې هم په انتظار یمه جانانه

تک کوم منزل ته ستا رسیدی نۀ شم
که راوان د ستا په لار یمه جانانه

فریادونه ما توفیق چې د خلې اوخې
د ستا مینه کښې په دار یمه جانانه

لیکوال توفیق ختک

غزل

زما د مینې انکاري شوا او انکار ی اوکړو
نور به څه وایم زړګیه خو د کار ی اوکړو

رقیب د حسد انتها خو دې خبره نه دا
جانان چې لږ شان مراور شو نو ګزار ی اوکړو

جانان د مینې نه قلار شه اوس انکار ی کړې
یو ځلي نه کنه زړګیه په باربار ی اوکړو

یار د راتلو او نه راتلو خبرې پریږده منړه
دومره کافي ده د راتللو چې اقرار ی اوکړو

د تورې سترګې ی صاحبه که منې او که نه
بنړه ی غشي دي ناساپه په زړه وار ی اوکړو

لیکوال ګل صاحب خان ختک

غزل

غلاته باندے سر یو خپل منزل ته نه راسیږو
داځنکه در په در یو خپل منزل ته نه راسیږو

بیناه یو خو بیا هم دنا بیناه پشانے ژوند کړو
هر څه نه ښه خبر یو خپل منزل ته نه رسیږو

جزبی زمونږ اوده دی حوصلی زمونږه مړے دې
پراته په لر او بر یو خپل منزل ته نه رسیږو

هر څومره پسلی مو که په للمو زمکو راغلل
زرغون نه یو بنجر یو خپل منزل ته نه رسیږو

صاحب ختکه داسی بد بختی ته مخامخ یو
مو دو نه مسافر یو خپل منزل ته نه رسیږو

غزل

منمه بې لته زندګی ګرانه غوندې ده
په دار به شم لالیه دا اسانه غوندې ده

دومره په اسانه به وو نه راسیږه ی سر ته
زما او دجانان قیصه څه وراته غوندې ده

وژنی بې ګنا مې هیڅ خبر دځان نه نه یم
پښتون یمه دا وینه مې ارزانه غوندې ده

په پوزه دې نتکی ده اوشین خال په زانه داسې
ښائسته لکه په ستورو د اسمانه غوندې ده

په ښار کښې به ډیر تنګ د اوسېدو نشی ناصیحه
ژوندون خو داندیم څه بیابان نه غوندې ده

غزل

بس دہ زندگی نہ پریبو تلئې یم
نور دے دا یارئی نہ پریبو تلئې یم

چرے هم دا خان او دا غریب نشی
ذکه دے سیالئی نہ پریبو تلئې یم

تہ را تہ پہ زنہ سلہ خال کیگدے
او جوړ دا شین خالئی نہ پروتلئې یم

بس دے خوشحالی پریگدہ غمونہ را
ذہ دہ خوشحالئی نہ پریبو تلئې یم

لاس راکہ او چت مے کہ ندیم یمہ
ستادہ دے بے رخئی نہ پریبو تلئې یم

غزل

رادرومه په مه هسې اې بې تر سه دايار غمه
په ژوندمې راسيدلې يې په مرګ به دی بائليمه

په مه باندې ډير بنه لګی چې ستا کوی ستائينه
په دې وجه راقيب اوغمازان دې خپل ګڼمه

په سترګو کښې يې اوښکې ګډ بدلې دايې اووې
دې خپلې ناچارئې دا لاسه هر ځائې خر ځپد مه

اے مه له دا نفرت چالونه نه راځئی زړګيه
پيدا مېنې دپاره يم په مينه باندې مرمه

واعده درسره کړمه وايم زه چې څو ژوندې يم
دیار غمه په ويتو دخپل زړه به دې پالمه

نديم که مخامخ په خله وائبلې درته نشم
په ژبه دقلم درته خپل حال بيانه ومه

غزل

ژوند له دې تیار کړمه چې یار دې کړم
مینې ته دې جوړ کړمه په دار دې کړم

څه دې بې پښتو کانې راو کړلې
جوړ مې کړې راټول مې کړې ګزار دې کړم

بې ګناه رانیسې مې دا وخت ظالمه
هسې دې قیدی کړم سزا وار دې کړم

یو حئلې داستا ستر ګو کاتو کښې بس
یه جانانه سم بلها خمار دې کړم

شکر دیار غمه دادې ښه اوکړل
ستا ندیم لیکوال شومه په لار دې کړم

غزل

دا ستاغمونه مې چیرې لالیه
وینه د تن مې اوچاوی لالیه

داستا دمینې تور پرې اولګېدو
اوس خوبه خامخه سر خوری لالیه

شو بې دیدنه ستا دکلی روان
بلها غمونه په سر وړی لالیه

والله په ژوند دې کړی بې وخته بوډه
دا په حئوانی کښې غریبی لالیه

مینه دې شور جوړ کړی چاپېره تړې شی
ندیم دا خوبه پاڅه وی لالیه

غزل

شوراوت دا خپلې بربادی ده دا مې اومنله
مینه خو نو م دبې بنسودی ده دامې اومنله

اوس خومزه دکلی نشته دې بنسودی لاړل
چې ورنه لاړه لیوانی ده دا مې اومنله

زمه داخوار جونګړه نه پریږدی ورانه یې کړله
نن دباران سره سیلی ده دا مې امنله

بلها غمونه دې رادرومی لیونې ئې کړمه
په خپله څنګه په مستی ده دامې اومنله

مرګ خو ډیر تریخ وی څوګ ئې غواړی کله
ندیمه تنګه له ځوانی ده دا مې اومنله

غزل

زه چې له ته جُدا کیدمه موړې
زړه کښې به پټ پټ جړیدمه موړې

په خله مې هڅ درته وایلے نه شو
په ته به ډیر خفه کیدمه موړې

چې را په یاد به شو زاړه وختونه
سم به بې اوره سوازیدمه موړې

چې کله ستا په تصور کښې لاړشم
جهوتې قدم په قدم خورامه موړې

بس انتظار کوا یو سوور ځې دی
عالم به سته غیګ ته درزمه موړې

رباعي

يـۀ سنت د خپـل نبي ځان بـرابـر کړه
قـران و وايـه ذ ديـن ته ځان خبـر کړه

لکه نمـر بـه يـۀ تـمـام جهـان رڼـا شي
يـۀ احکامـو د خپل رب ځان مقبـر کړه

د اسمـان نه بـه اوچـت شي اے نـادانه!
د جانان د کوڅې خاورې څو يـۀ سر کړه

يو لحظه به درد غم يـۀ زړۀ وۀ نـۀ خوري
خـو تـۀ مينـه د دنيـا د زړۀ لـر کړه

د عـالـم همـدرد خبرو ته غـوږ کښږ ده
مسلمـانه ورتـه خـلاص د زړګي ور کړه

حمد باری تعالی

زمکه دې پیدا هم اسمانونه دی
لویه ربه لوئ لوئ دې کارونه دی

کوم څیز ته چې ګورم په کښې تا وینم
هر څه کښې بنکاره دې قدرتونه دی

زمکه دې اوبو د پاسه ایښې ده
غرونه پرې وهلی دې میخونه دی

مونږ دې ربه کوم کوم نعمت اوشمارو
کړی دې په مونږ ډیر نعمتونه دی

غواړم معافی اے ربه معاف می کړې
ماانور نه شاوی ګنا هونه دی

غزل

نن دې سترګو آئینه کښې خپل بشر ګورم
چې یم خه شوې اوکنه د زړۀ پر هر ته ګورم

کهدې شی رحم په مه وکړې مه دحنان څه یوسې
مجبوره شوې یمه څه به مات وزر ته ګورم

راشه چې ډك جامونه در کړم نن موقه ده اشنا
په داوُ ولاړیم حنکه ستا حسن قمر ته ګورم

ولې دې رنګ داسې تغیر بانډه دې مړاوی بنکاړې
داسې اوتره ئې جوړ حنه چې دې سکر ته ګورم

لکه ملنګ کو څه کښې ناست د مینې خیر غواړمه
دخیر کچکول تنګاوم ستا مخکې نظر ته ګورم

سو چونه مه کوه حنه ستا یمه د بل به نشم
مومنده خلاصې تنړې کړحه ستا دور ته ګورم

غزل

چې ستا د ستر ګو ددنظر پرېږو حئم
لکه چې ستا دګوتو زر پرېږو حئم

حئما خو مېښه په چپو کښې دله
څنګه دا ستا دلوئ کمر پرېږو څم

یاره په څنګړو کې مې پوخ وتړو مبه
بیادې د څنګړو نه اکثر پر پوحئم

چې رانه مخ په بل طرف اړه وي
راته مالو مه شوه دغر پرېږو حئم

په مه ده ظلم انتحا دې وکړه
حئکه نن ستا دلوئ تاتر پرېږو حئم

لاس مې راپېکې څه نېوې نه شمه
مومنده ګر حئیکم لروبر پرېږو څم

کلام

ده ستا لید و ته ارمانی یم آشنا
پت په زړګی زخمي زخمي یم آشنا

په تشه خوله مې دي تپوس ونکړو
په انتظار پروت ده مرګي یم آشنا

توله دنیا رانه نفرت کوي اوس
ده ستا په مینا تعمتي یم آشنا

که په مابدوائې څوك نه ده وائي
زه ډیر مجبوره ده زړګي یم آشنا

زه سلمان جان ده ستا خطره ګلا
نن هر سړي ته سلامي یم آشنا

غزل

چې مې جوړ د غم داستان شي بيا رانۀ شې
چې مې څيرې هم ګريوان شي بيا رانۀ شې

چې ملنګ شم کوپه څوکښې خپرات غواړم
واړه حال مې ليوانو شي بيارانۀ شې

دمجنون پشان مې کانړوباندې اولې
هريو غم مې ډوبيدوشي بيارانۀ شې

دا زړه تنده هو مې هيچه ماته نه کړه
چې ساه له تنه مې واتو شي بيا رانه شې

سلمان جان به زخم تور لحد ته يوسم
چې مې پاتے هر آرمان شې بيا رانه شې

غزل

د حرامو دولاتونه مې خوښ نه دي
د اسلام خلاف کارونه مې خوښ نه دي

چې د يو او بل عزت پکښې خرڅيږي
يا ره داسې محفلونه مې خوښ نه دي

چې حيا او د سنت مطابق نه وې
دا بې ننګه رواجونه مې خوښ نه دي

د نامې جامې سړئ پکښې سپکيږي
دا کمسل عادتونه مې خوښ نه دي

پس له مرګه د خوندونو مې اوباسي
د شرابو نه ګوتونه مې خوښ نه دي

لويه حدايه محبت په دنيا عام کړې
دا يو بل نه نفراتونه مې خوښ نه دي

درشيوال ظالیب جونګړه کښې راضا يم
غلامي کښې محلونه مې خوښ نه دي

(لېکوال ظالېب کل درشيوال)

غزل

مینې مې په زړۀ کښې سم انکار پرېښی دی
کله چې اشنا زما دیدار پرېښی دی

دا بۀ عمر له په یاد کښې زما اوسي
پور د یارانه کښې مې قرار پرېښی دی

بې د یاره بۀ مې څوک پۀ علاج پوه شي
زړۀ ې چې زما پۀ نیمه لار پرېښی دی

یار ته پۀ سترګو کښې مې ډېر اوکړو منت
د اوښو پۀ جرګه کښې یې انکار پرېښی دی

یه قدیره چې بس ګوښی جانان خوښ دی
ما ې هم پۀ مینه نور اعتبار پرېښی دی

غزل

ستا پۀ غم کښې مې جانانه ښه يې وينې
زندګـــــي ده ډېره ګرانه ښه يې وينې

تـۀ پـــۀ حسن بـــــاندې ولې کړې دلبره؟
پـــۀ لويې بۀ شې ستومانه ښه يې وينې

ستا زمـــا سره رشتې خبر يې څو وې؟
مينـــې هم د وينـــې ورانه ښه يې وينې

آ بۀ زۀ چې څـــاروال ستا د کـــوڅې وُم
ستا غوښتنـــه وه پرېمانه ښه يې وينې

مـا قدير بـاندې دې هېڅ رحم او نۀ کړو
د پـــرهـــر قيصه روانـــه ښه يې وينې

غزل

د اروابښاد خاطر اپريدي صېب پۀ بېت طرحه

جور وي مـا باندې بۀ څلـــی زۀ بۀ مړ يم
(تۀ بۀ ګرځی هسې ښکلـــــی زۀ بۀ مړ يم)

يا پۀ خود يم پېـژنـدی دې شم دلبـــره
کاش چې اوس وی لږ راغلی زۀ بۀ مړ يم

شي لايا ستاسو د چـم درته کوڅې بـۀ
مانـــه روح بۀ وي ختلـــی زۀ بۀ مړ يم

جنازې ته بۀ مې ګوري چې ښکارېـــږم
پس سلګيـــو بۀ وي نيولـــی زۀ بۀ مړ يم

نيمګـــړي خوبونه بۀ پۀ خيال کښې زمـا
بې تعبيـــره شي ليدلـــی زۀ بۀ مـــړ يم

ارمـــانونـــه بۀ يې زړۀ زړې زړې کـــړي
نل ته چـا ګنـی وئيلـــی زۀ بۀ مړ يـم

ای نـــادانه د نـــادان مينـــه دې اوکـــره
ځان پۀ خپله ځان سپزلـــی زۀ بۀ مړ يم

لکه په لوړه چې اوبۀ نۀ اوړي
داسې له تانه زما زړۀ نۀ اوړي

هرڅوک خپل کور ته په خپل ورۀ نوځي
څوک دخپل کور په دیوالۀ نۀ اوړي

په تا مین یمه رښتیا نۀ وایمه
خپلې کیسې نۀ پښتانۀ نۀ اوړي

نبي وزیر یم ستا په ورۀ پورې ناست
دستا له ورۀ مې پل په پلۀ نۀ اوړي

کلام

پۀ دعاګانو کې مې نن له خدای جانان غوښتی دی
زمونږ دکلي بزګرانو ترې باران غوښتی دی

زه دیدنونه غواړم دوی ترې بارانونه غواړي
زه یې وریځ غواړمه دوی ترې شین اسمان غوښتی دی

چې څوک بۀ څۀ او څوک بۀ غواړي د خدای له دره
ما د مرګي سره یو ځای ترېنه ایمان غوښتی دی

نبي وزیر په دې دنیا ترېنه بنګلې نۀ غواړم
یونیم او شپږ فوته زمین مې ګلستان غوښتی دی

لیکوال نبي وزیر

غزل

بچیه مۀ کوه په ژوند د شر او شور خبرې
بس دغه ډبرې پۀ ما ښې لګې د مور خبرې

زما چې نشته څۀ خطا نو بیا مې څله چیرۀ
پورې کوۀ ولې په ما خلکه د تور خبرې

چې یارې نۀ کوې جانانه نور دې نۀ تنګوم
مینه د زړه نه کیږي نۀ دي دا د زور خبرې

دا ستا اخپل مې ګنل خپل او تۀ مې خپل ګنلې
نن خو دې اوکړې وایه څرنګې د وور خبرې

رسوا دې کړم جانانه پۀ ما تول کلی خبر شو
اعجاز ته جوړې شوې ستا مینې د پیغور خبرې

غزل

بس دے نوره دا خواري کولے نۀ شم
د هر چا منت زاري کولے نۀ شم
ستا پۀ خوا کښې چې ګرځيږي دلې دلې
زۀ د دو خلکو سيالي کولے نۀ شم
ما برداشت کړل دپر نازونه د ستا ياره
نور برداشت ګورے بيخي کولے نۀ شم
بيا بۀ ژاړې زۀ بۀ لرې درنه لاړ وم
واوره زۀ بيا واپسي کولے نۀ شم
تۀ خو وايي راته وايه څۀ قيصه ده
زۀ خبرې د زړګي کولے نۀ شم
وايم زۀ اعجاز ختک نوره پخلا شه
بې لۀ تا نه زندګي کولے نۀ شم

غزل

د خپل کلي نه بهر يم مسافر يم
ابلی ښپی او سر ببر يم مسافر يم

نا کهانه مې هر څوک پۀ کانو ولي
پۀ مثال د غره کونتر يم مسافر يم

خوشالي مې پۀ ژوند کړي چرته نۀ ده
د غمونو سر لښکر يم مسافر يم

خوب مې نشته یاره ستا پۀ یاد کښی ژاړم
ویښ پۀ نیمو شپو اکثر يم مسافر يم

ستا د ډیرې بې روخی د لاسه یاره
زۀ عجاز کډه پۀ سر يم مسافر يم

دهر چه نه می زړکیه تمه لنډه ده
هر سړې چې ګورمه په منډه ده

چه دی که پختانه رانه وکړه له
وه یم ورته ګورې نه چې پنډه ده

نه می پرېګده وی په یوخلات
توله ژبنده کی می راته خنډه ده

دغه تورورئ چه کبر ته زې رازې
چه وایل چې دغه تورورئ کوانډه ده

یو تارف ته تلی نشم اسلم ختک
عر تارف ته لاره کنډه کنډه ده

ستا په زړۀ کې کور اخلم
سترګو نه دې تور اخلم

مینه عجیبه شے دی
هره ورځ زۀ وور اخلم

دلتۀ مۀ راځۀ یارۀ
دلته ستا پېغور اخلم

ځان ته ژوندون نۀ کیږي
لګ ده مخفل سور اخلم

زۀ بۀ خامخا ورځم
دعا ده خپلې مور اخلم

سرۀ زر ګلې ګران دي خو
تاله به یې پور اخلم

دا بنګړي کۀ ماتۀ شی
آسلم بۀ درلۀ نور اخلم

آسلم پۀتا احسان نه کوم
بنګړي با در ته نور اخلم

کله کله غنمرنګو ته خپران یم
کله کله ږنګو بنګو ته خپران یم

ستا خبرې کله تې تې کله چ کی
کله کله دنګو دنګو ته خپران یم

کداموڼه ې په ناز او په نهرو دی
کله کله ئې تنګو تنګو ته خپران یم

،،،طرحې غزل،،

په ارمان ده نادانۍ شې چې هوښیار شې
دا بد بخته بختور شې چې ازار شې

ژوند درنی لمحې ده وصل انتخاب کړم
په زوال شم چې دیدن له یار تیار شې

ما په خپل راهزن تراوسه نظر نه که
زکه هر سړې نه جوړ راته خامار شې

دا بی وسه بی مکتبه بی هنره
دا انسان ده خپله ژونده توبکار شې

همدردې ده منور زړه بادشاهې ده
مشقت کښې همدردی سړې پکار شې

ده لوستو نه یم خو په جبه راشې
دا ستا له غمه په ما تبه راشې

سر په ما چورلې لکه بنګ مې څکلې
ته ې ډیر لرې قرار څه به راشې

ته ده کوټې په ګوټ کښې زان ته جارې
زه په ارمان چې تر اوره به راشې

غمه دا نیم عمر خو تا اوخورو
چرته په سترګو زما زړه به راشې

منوره کینه چرته سین غاړې ته
ده جانان خولې جوته اوبه به راشې

مـــــــنـــور سیـف

زړه شیمه مې دومره نشته چې تا زوان کړم
اې ده غم په ضعف مړه څنګ دې زان کړم

په الحام ده عاشقی مې زړه ظهیر دې
ستا نظر نظر کاته ځکه پرسان کړم

په وجود مې پښتونخواه نامه لیکلې
په کفن به مې نامه پښتونستان کړم

زه خاغلې ته خاغلې یار خاغلې
اخلاقی مینه عادی ده هر انسان کړم

ده خوږ من زړه نه مې درد اواز راخیژې
کله کله ارمانونه شهیدان کړم

مخالف ته بد نظر ده سر تاوان دې
بنکلې مخ ته خپل نظر څنګه تاوان کړم

ستا په در کښې استوګن منور خواخ دې
زه خپل کور درشل ته هغسې خفګان کړم



Download from:aghalibrary.cm